دو فصلنامۀ
مجلۀ علمی - تحقیقی **عینک** - علمي څېړنيزه شپږ میاشتنۍ
د امتیاز خاوند: لوگر پوهنتون
د مجلې د جواز نېټه: ۱۴ / ۱۱/ ۱۴۴۴

# د تأهل له مخې لوگر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت د اغېزناکو عواملو څېړل، (له ۱۳۹۹ تر ۱۴۰۳)

**پوهندوی محمد طاهر خپلواک[۱]، محمد ذبیر حقمل[۲]**

[۱] پیداگوژي ځانگه، ارواپوهنې او روزنیزو علومو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل – افغانستان

[۲] د کابل پوهنتون، د عامه اداري او پالیسي پوهنځي ماسټري دورې د وروستي سمېسټر محصل

برېښنالیک: tahirkhpalwak@gmail.com

**خلاصه**

**د مسئلې بیان:** په لوگر پوهنتون کې د محصلانو تحصیلي افت یوه جدي ستونزه ده او لا څرگنده نه ده چې کوم عوامل یې اصلي لاملونه دي.

**موخه:** لوگر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت د اغېزناکو عواملو څېړنې اصلي موخه د محصلانو پر تحصیلي افت د اغېزناکو لاملونو پېژندل او اولویت‌بندي ده. څېړنه د موخې له نظره کاربدونکې او د معلوماتو را ټولولو له نظره کمي ده.

**مواد او څېړندود:** د څېړنې جمعیت لوگر پوهنتون (۱۳۰۰) تنه محصلان دی، چې (۲۹۷) تنه د نمونې په توگه انتخاب شوي. معلومات د څېړونکي لخوا جوړې شوې پوښتنپاڼې په واسطه راټول معلومات او 26SPSS پروگرام په واسطه تحلیل شوي.

**موندنې:** د څېړنې موندنې ښئي چې د محصلانو پر تحصیلي افت تر ټول ډېر د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای اړوند عوامل او تر ټولو لږ د درسي محتوا اړوند عوامل اغېز لري. په متأهل محصلانو کې د تحصیلي افت کچه تر مجرد محصلانو ډېره ده.

**پایلیزه:** پوهنتون ته په کار ده چې د پوهنتون تحصیلي چاپېریال او د محصلانو د اوسېدو ځای ښه‌والي ته جدي پاملرنه وکړي، ترڅو د محصلانو تحصیلي افت کچه کمه شي.

**کلیدي کلیمې:** ، تحصیلي افت، پر تحصیلي افت اغېزمن عوامل، محصلان او لوگر پوهنتون.

استناد: خپلواک، محمد طاهر او حقمل، محمدذبیر. (۱۴۰۴) د تأهل له مخې لوگر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت د اغېزناکو عواملو څېړل (له ۱۳۹۹ تر ۱۴۰۳) . دوفصلنامۀ علمي - تحقیقي عینک علمي - څېړنیزه مجله، درېیم کال، ۵ گڼه، مخ ۱۴۷- ۱۷۲ :DOI

ناشر: لوگر پوهنتون
حق‌مؤلف © نویسندگان.

## سریزه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ وَعَلٰى آلِهِ وَاصَحْابِهِ أَجْمَعِينَ، وَبَعْدُ!

د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو او په تېره بیا د درېیمې نړۍ هېوادونو د تحصیلي نظام یو له سترو بحرانونو څخه د "تحصیلي افت" مسئله ده او نن سبا د پوهنې له مهمو مسایلو څخه ګڼل کېږي. ډېری ښوونکي، ټولنپوهان، اروا‌پوهان او نور دې مسئلې ته د خپل نظر له مخې کتلي او بېلابېل تعریفونه یې کړي دي. د تحصیلي لوېدنې معنی دا ده چې خلک د ښوونېزو اسانتیاوو د کارولو فرصت ومومي؛ خو د ځینو دلایلو له امله، دوی له زده کړې څخه ایستل کېږي، له وخته مخکې د زده کړو پرېښودل، یا والدین د دوی د زده کړو له دوام څخه مخنیوی کوي.

**د مسئلې بیان**: د لوېدنې کلیمه د عمید په فرهنګ کې د کمښت او لوېدنې په مانا سره راغلې ده او د معین په فرهنګ کې د (لوېدنې یا افت) کلیمه د ټیټوالي او کموالي په مانا ده. له تحصیلي لوېدنې څخه موخه د محصلانو تحصیلي کړنې د قناعت وړ کچې څخه نامطلوبې کچې ته د را ټیټېدلو په مانا ده. دې تعریف ته په کتو ښئي چې د محصلانو د تېرو تحصیلي کړنو کچه له اوسنیو کړنو سره پرتله او اندازه کول د تحصیلي لوېدنې غوره ځانګړنه ده. په معمولي ډول، د تحصیلي ماتې یا لوېدنې د بیانولو لپاره، د تحصیلي لوېدنې یا تحصیلي ټیټوالي کلیمه کارول کېږي. د امین فر له نظره، په ښوونه او روزنه کې د لوېدنې اصطلاح کارول د اقتصاد پوهانو له ژبې څخه اخېستل شوې ده. هغوی زده کړه له یو داسې صنعت سره پرتله کوي چې په هغه کې خام مواد له پروسېس وروسته باید په محصول بدل شي، له منځه ځي چې مطلوبه او متوقع پایله لاس ته نه‌راوړي. لوېدنه په ټوله کې په دوه ډوله ده. کمې لوېدنه او کیفي لوېدنه. کمي لوېدنه، د محصلانو- زده کوونکو هغه سلنه چې نه شي کولای ښوونیزه - تحصیلي دوره د نه بریالي کېدو او د زده کړې د پرېښودو له امله په بریالیتوب سره بشپړه کړي. کیفي لوېدنه: ټاکل شویو موخو ته په رسېدو او یا هم د دغو موخو په لاس ته راوړلو کې ناکامي ده. پر همدي بنسټ، د یوې تحصیلي دورې د فارغانو د پوهې او مهارتونو تر منځ توپیر او د دې دورې لپاره ټاکل شویو موخو د کیفیت کمښت ښیي. تحصیلي لوېدنه: د یو هېواد په تحصیلي سیستم کې له وخته مخکې د زده‌کړو پریښودل او یا د لومړنیو زده‌کړو بیا ځلي تکرار له تحصیلي لوېدنې څخه عبارت دی.

د هېواد په ښوونیز- تحصیلي نظام کې یوه جدي ستونزه د تحصیلي لوېدنې پدېده ده چې معمولاً په ډېرو پوهنتونونو کې لیدل کېږي او یاده شوې ستونزه د ډېرو اقتصادي، ټولنیزو، فرهنګي، اروايي او حتی بشري سرچینو له لاسه ورکولو لامل کېږي. هغه ښوونیز نظامونه چې د تحصیلي لوېدنې له ستونزې سره مخ دي ښوونیزې موخې نه شي تر لاسه کولای. محصلان هم د تحصیلي کړنو په پرمختګ کې ناهیلي، مایوسه

او پر خپل استعداد شک کوي. پر دې سربېره، ډېری محصلان زده کړې پرېږدي، تأجیل اخلي او ځېنې محصلان په تحصیلي کړنو او ازموینو کې مطلوبې پایلې نه تر لاسه کوي، حتی ځېنې دویم او درېیم چانس ته ځي. استادان هم له یادې ستونزې ځوربږي. د تجربو - معلوماتو له مخې، لوګر پوهنتون کې د محصلانو تحصیلي کړنې د قناعت وړ نه دي. همدارنګه، یو شمېر محصلان په بېلابېلو تخصصي، مسلکي او پوهنتون شموله مضامینو کې ښې او د قناعت وړ نومرې نه اخلي، دویم او درېیم چانس ته ځي، بیاځلي سمستر تکراروي او حتی ځېنې یې تحصیل پرېږدي چې دا پدېده لوګر پوهنتون کې ډېره لویه ستونزه ده. د دې ستونزې دوام د خلکو او ټولنې لویه اندازه مالي سرچینې او استعدادونه له منځه وړي او ناوړه اغېز کوي.

**اړتیا او ارزښت:** ښوونه او زده‌کړه د هر ملت د پرمختګ اساسي بنسټ ګڼل کېږي، خو په افغانستان کې د تحصیلي افت یا لوېدنې ستونزه د وروستیو کلونو یوه جدي اندېښنه ګرځېدلې ده. د هېواد تعلیمي او تحصیلي سیستم د بېلابېلو ستونزو له امله له سختو ننګونو سره مخ دی، چې پایله یې د زده‌کوونکو او محصلانو د زده کړې د کچې کمزوري کېدل دي. د دې ستونزې د ریښو موندلو او د پېشنهادي حل‌لارو وړاندې کولو لپاره، دا څېړنه تر سره شوې ده. په دې څېړنه کې هڅه شوې چې په افغانستان کې د تحصیلي افت اصلي لاملونه وڅېړل شي. د دې څېړنې پایلې به د تحصیلي پالیسي جوړوونکو، استادانو، کورنیو او تحصیلي بنسټونو لپاره مهمې او ګټورې وي، ترڅو د افغانستان تحصیلي وضعیت ته پاملرنه وکړي او د تحصیلي افت د کمولو لپاره اغېزناک ګامونه پورته کړي.

د تحصیلي لوېدنې په اړه بېلابېل تعبیرونه او تعریفونه وړاندې شوي چې د ټولو ګډه ځانګړنه د رسمي زده کړو په مخته وړلو کې د بریالیتوب نشتوالی او ناکامي ده. په اصل کې، ځینې په دې باور دي چې "د تحصیلي لوېدنې اصطلاح یا په ښوونه او روزنه کې لوېدنه د اقتصاد پوهانو له ژبې څخه اخیستل شوې. په تحصیلي لوېدنه کې د تحصیلي ناکامی مختلف اړخونه شامل دي، لکه په ښوونځي - پوهنتون کې په پرله پسې ډول غیر حاضري، له ټاکل شوي وخت څخه د زده کړو په مکرر ډول پرېښودل، د لومړنیو زده‌کړو بیاځلي تکرار ، د زده کړې ټیټ کیفیت او د معلوماتو پر ځای د محفوظاتو تر لاسه کول.

د افغانستان د پوهنې او لوړو زده‌کړو بنسټونه د زده‌کوونکو د (تحصیلي افت) په نوم یوې ښوونیزې او تحصیلي ستونزې سره په مختلفو سطحو کې مخ دی. دغې ناوړه پدیدې ټولنې ته جدي ستونزه رامنځته کړې چې په ځینو مواردو کې زموږ د تحصیلي نظام په کیفیت کې ریښه لري او د ټولنیزو مفکرینو، دولتي نصاب جوړوونکو، استادانو، ټولنپوهانو، ارواپوهانو، کورنیو، سیاستوالانو او نورو پام یې ځان ته اړولی دی. دغه پدیده چې په ټولنه او په خاص ډول پوهنتونونو کې یوه پراخه او هر اړخیزه ستونزه ګرځېدلې، د زده‌کړو د لوړو موخو د تر لاسه کولو پر وړاندې یو جدي خنډ دی. دغه وضعیت د هېواد رسمي چارواکي دې ته اړ کړي چې د دې ستونزې د اصلاح، رفع کولو او یا هم مخنیوي لپاره عملي اقدام وکړي. «تحصیلي افت»

داسې یوه مسئله نه ده چې له پامه وغورځول شي، ځکه چې دا پدېده له کلونو راهیسې زموږ په تحصیلي نظام کې شتون لري او تر اوسه دوام لري. په ظاهره توګه، د دې ستونزې لامل اقتصادي ګڼل کېږي؛ خو ګڼ شمېر عوامل په دې کې دخیل دي. همدا لامل دی، ځېنې زده‌کوونکي او محصلان د زده‌کړې د وړتیا د نشتون له امله له زده‌کړو پاتې کېږي یا یې پرېږدي.

دا یوه عمومي او پراخه موضوع ده چې د هغې د عواملو د موندلو لپاره د څېړونکو یوې لویې ډلې او څېړنې ته اړتیا شته. دا کار د ډېر وخت او لوړو لګښتونو ترڅنګ د ګڼو ستونزو سره مخ کېدلای شي. په بېلابېلو اړخونو کې ستونزې، د شرایطو، جغرافیوي ځایونو، ټولنیزو او کلتوري وضعیتونو توپیرونه د دې لامل کېږي چې د ټول هېواد لپاره مشترکې او ثابتې پایلې تر لاسه کول ناشوني شي، که څه هم ځینې ګډ عوامل شته چې په ډېرو ځایونو کې لیدل کېږي. د همدې لپاره، هڅه شوې چې د څېړنې موضوع له جغرافیوي او د عواملو د ارزونې له اړخه محدوده او روښانه شي. نو له همدې امله، یوازې د لوګر پوهنتون محصلان انتخاب او موضوع محدوده شوې ده.

په نن عصر کې چې معلومات پراخ شوي، خلک اړ دي چې د ټولنیزو اړیکو په ډګر کې د اوسني ژوند لپاره اړین معلومات تر لاسه کړي او راتلونکي ته حرکت وکړي. په دې نړۍ کې چې نوې ټکنالوژي او بېلابېل کلتورونه لري، اړینه ده چې پوهه، معلومات، د نوښت او تولید فکرونه، د ښه ژوند کولو کلتور، ملي او انساني ارزښتونه او سالم ټولنیز تطابق راتلونکو نسلونو ته انتقال شي. دغه راز، د راتلونکو نسلونو د روزنې لپاره چې د راتلونکي نړۍ جوړونکي وي، چمتووالی هم د ځانګړي اهمیت وړ دی، څو دوی وکولای شي د خپل هېواد او ټولنې برخلیک په خپلو لاسونو کې ونیسي. نو له پوهنې او لوړو زده‌کړو اداراتو او بنسټونو پرته کوم بل بنسټ یا سازمان دغه مهمې دندې او رولونه په ښه توګه نه شي تر سره کولای شي. د هېواد تحصیلي نظام په مختلفو پوهنتونونو او پوهنځیو کې میلیونونه محصلان تر خپل پوښښ لاندې راولي. د دې دندو د تر سره کولو لپاره ډېرې بودیجې لګول کېږي، زیاتې انساني، مالي او فزیکي سرچینې او وسایل کارول کېږي، څو ځوانان سالم، ګټور او بریالي وروزل شي. دوی باید د تحصیلي نظام له منځ څخه ټولنې ته داسې وړاندې شي چې د نړۍ په کچه د علم او ټکنالوژۍ پرمختګونو سره یو ځای حرکت وکړي، د ملي او نړۍوالو اړتیاوو پوره کولو لپاره کار وکړي او خپل هېواد په نړۍوال ډګر کې پیاوړی او سرفراز کړي.

په پوهنتون کې د محصلانو تحصیلي دوره له څو اړخونو څخه ډېر اهمیت لري. له اقتصادي اړخه، چې په افغانستان کې لوړې زده کړې د ملي عوایدو پر بنسټ ولاړې دي او د زده کړو لګښت کولی شي پر دولت او ټولنې لوی اقتصادي بوج راولي. له ټولنیز اړخ، د محصلانو لوېدلي تحصیلي کړنې کولی شي د بې اغېز او بې کفایته متخصص کادرونو تولید او په پای کې د ټیټ کیفیت خدمتونه او د خلکو لپاره د هوساینې نشتوالي لامل شي. له فردي نظره، د تحصیلي لوېدنې پدېده به د محصلانو لپاره اقتصادي ستونزې، د شااوخوا چاپېریال سره نامناسبې اړیکې او په ټولنه کې په ځان د نه باور درلودو او عزت کمېدو په څېر ستونزې رامنځته کړي. معلومه خبره ده چې د تحصیلي لوېدنې پدېده د مالي سرچینو پر ضایع کېدو سربېره، د دې لامل کېږي چې یو څوک وروسته د کار بازار ته ننوځي، مایوسه کېږي او خپل مورال له لاسه ورکوي او خپله محصلانو، د هغوی کورنۍ، ټولنې او هېواد ته ډېر زیان رسوي. دا کولای شي د منفي ټولنیزو کړنو لکه د ښوونځي یا کورنۍ پرېښودل، پر مخدره توکو او الکولو روږدیتوب، خپګان او ځان وژنې لامل شي.

یادې شویو ستونزو ته په کتو، په ۱۴۰۳ کال قوس کې لوګر پوهنتون کې د محصلانو له نظره د تحصیلي لوېدنې د لاملونو د پېژندلو په موخه یاده څېړنه تر سره شوه، تر څو د تحصیلي لوېدنې لاملونو په پېژندلو سره د تحصیلي لوېدنې له امله رامنځ ته شوي زیانونه راکم او د محصلانو فعالیتونه مطلوبې سطحې ته لوړ شي.

**مخینه**: د تحصیلي لوېدنې د لاملونو په اړه ګڼ شمېر څېړنې تر سره شوې دي چې د ځینو څېړنو موندنې په لاندې ډول دي:

خپلواک او نجیب په ۱۴۰۱ کال افغانستان کې (لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې د اغېزناکو لاملونو څېړل) تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده. د څېړنې جمعیت لوګر پوهنتون ټول محصلان دي چې شمېر یې (۸۳۰) تنه دی او (۱٦۳) تنه د نمونې په توګه انتخاب شوي چې ۱۲۹ نارینه او ۳۴ ښځینه دي. د دې څېړنې پایلې ښئي چې پر تحصیلي لوېدنې تر ټولو لوی عامل خپله محصلان او تر ټولو کوچنی عامل د پوهنځیو رهبري ده. په ترتیب، انفرادي عوامل، کورني عوامل، تحصیلي رشته، د تدریس مېتود، اقتصادي عوامل، د ښوونځو ضعف، ټولنیز عوامل، درسي محتوا، د ارزونې مېتود، سرچینې او اسانتیاوې، سیاسي عوامل او د پوهنځي رهبري د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېز لري.

د اولادونو پر تحصیلي وضعیت د تلویزیون د اغېزو په اړه، دوو څېړونکو هر یوه فیلیپ نیومن او باربارانیومن د ۲۳ څېړنو پایلو په تحلیل سره موندلې، هغه زده‌کوونکي چې په اونۍ کې ۱۰ تر ۱۵ ساعت ټلویزیون ګوري تحصیلي پرمختګ یې په لوړ حد کې دی(هغو زده‌کوونکو په پرتله چې له ۱۰ ساعتو لږ تلویزیون ګوري) او وروسته د کتلو په زیاتوالي سره له ۲۰ تر ۴۰ ساعته په اونۍ کې، په ښکاره توګه تحصیلي پرمختګ کمېږي. د یونسکو(۱۳٦۹، ژباړه مشایخ) د مشاورانو ډلې د راپور پر بنسټ، په هندوستان

کې هم زده‌کوونکي ډېری د لباس کمبود او امکانات او فیس نشتون له امله تحصیل ترک کوي. د څېړو شویو ارقامو له مخې، ۳۰ په نجونو او ښځو کې ۳۰ سلنه د تحصیلی ترک کول د دې له امله دي چې د هغوی والدین له تحصیل سره علاقه نلري. د شېراز پوهنتون د ټولنیزو او انساني علومو مجله(۷۱-۷۲) کې راغلي دي، هغه څېړنه چې په انګلستان کې تر سره شوې، ښئي چې د پلار شغل د ټولنیزې طبقې شاخص په توګه د اولادونو د تحصیلي پرمختګ سره تر ټولو لوړ اړتیا او تړاو درلود(حاجي زاد، ۱۳۸۲، ص ٦٨-٧١).

مجیدي(۱۳۷۵) د ایران هېواد(په میانه ولسوالۍ رهنمایي دورې زده‌کوونکو تحصیلي افت او بریالیتوب او د ځینو ټولنیزو – اقتصادي ځانګړنو تر منځ رابطه څېړل) تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده. یاده څېړنه په پیمایشي مېتود سره تر سره شوې ده او د متغییرونو تر منځ رابطې معلومولو لپاره له همبستګي مېتود څخه استفاده شوې ده. د دې څېړنې د نفوسو ټولنه په ۱۳۷۴-۱۳۷۵ تحصیلي کلونو کې د میانه ولسوالۍ رهنمایي دورې ټول زده‌کوونکي دي او له دې جملې څخه ۳٦۰ تنه زده‌کوونکي چې ۱۸۰ یې بریالي او ۱۸۰ یې ناکام دي، د آماري نمونې په توګه انتخاب شوي دي. په بریالیو زده‌کوونکو کې ۱۷۴ تنو او په ناکامو زده‌کووکو کې ۱٦۴ تنو پوښتنپاڼه ځواب ډکه او ځواب کړې ده. د معلوماتو د تحلیل لپاره له خي دو او پیرسن ضریب ټېستونو څخه استفاده شوې ده. تر لاسه شویو پایلو ښودلې ده چې د پلار سواد، مور سواد، کورنۍ درامد، پلار شغل، کورنۍ غړو شمېر او اولادونو د تحصیلي افت تر منځ رابطه شتون لري؛ خو د والدینو د اوسېدو ځای، مور اشتغال، د کورنۍ څووم زوی توب او اولادونو تحصیلي افت تر منځ مانا لرونکې رابطه شتون نه لري.

حسن دلاکه(۱۳۸۰): (تهران ابتدائیه ښوونځیو ښوونکو له نظره د زده‌کوونکو پر تحصیلي افت د مؤثرو عوامل تحلیل) تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده. په دې څېړنه کې اوه مهم عوامل یعنې(ښوونیز، رفتاري، ټولنیز، اقتصادي، کورني، او د ټولګي تکرار چې پر تحصیلي افت اغېز لري، تحلیل شوي دي. په دې څېړنه کې راغلي دي چې د ښوونکو له نظره د تحصیلي افت مخنیوي تر ټولو ښه ستراتیژۍ، ښوونیزې ستراتیژۍ دي.

پارسي او همکارانو(۱۳۹۷) د مازندران د طبي علومو پوهنتون د بېلابېلو مقاطعو پر محصلانو د تحصیلي لوېدنې کچې او اغېزناکو لاملونو تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې او لاندې پایلې یې تر لاسه کړې: تر ټولو لوړه تحصیلي لوېدنه د لېسانس او تر ټولو لږ تحصیلي لوېدنه د ماسترۍ او دوکتورا په مقاطعو کې تر لاسه شوه. له تحصیلي لوېدنې سره د جنسیت او عمر تر منځ د پام وړ توپیر ښودل شوی. په منځنۍ ډول تحصیلي لوېدنه په ټولو کچو کې د نجونو په پرتله په هلکانو کې لوړ وه ($p < ۰/۰۵$). په تحصیلي لوېدنې د بېلابېلو لاملونو اغېز لکه د شهادت‌نامې تر لاسه کولو او پوهنتون ته د ننوتلو تر منځ وخت وقفه ، واده او تحصیلي رشتې د پاموړ وې، په داسي حال کې چې د والدینو د زده‌کړو کچه، ښوونیزې اسانتیاوې،

د ماشومانو شمېر، د ځانګړي ناروغۍ مخينه، دنده او اقتصادي شرايطو متغييرونو تر منځ د پاموړ اړيکې نه دي تر لاسه شوې.

تمناييفر او د هغه همکارانو (۱۳۸٦) د هغو لاملونو د پرتله کولو په اړه څېړنه تر سره کړې چې د مشروط او ممتاز محصلانو پر تحصيلي لوېدنه اغيزه کوي، او د څېړنې پايلو يې ښودلې چې ممتاز محصلان د مشروط محصلانو په پرتله لوړ هوښ(IQ) لري، او په هغوی کې خپل ځان ته درناوی پياوړی دی او دوی ښه تحصيلي شاليد لري. همدارنګه، دا معلومه شوې چې ډېری محصلان چې د تحصيلي لوېدنې سره مخ دي (۸/۸۸ سلنه) غير محصلي او ډېری غوره(ممتاز) محصلان (۸/۵۳ سلنه) بومي دي. ابراهيم نعيمي (۱۳۹٦) په خپلو څېړنو کې ښودلې چې د مجازي ټولنيزو شبکو کارولو او د شخصي ارزښت د احساس تر منځ منفي او د پام وړ اړيکه شتون لري او د مجازي ټولنيزو شبکو د کارولو او تحصيلي لوېدنې تر منځ منفي اړيکه شتون لري ( p 0 < / ۰۵ ). همدارنګه، د شخصي ارزښت احساس او د مجازي ټولنيزو شبکو کارولو مقدار د دې توان درلود چې په زده کونکو کې د تحصيلي لوېدنې وړاندوينه وکړي. ابراهيم زاده او همکارانو(۱۳۹۴) يې د لارستان د طبي علومو په پوهنتون کې د تحصيلي لوېدنې او د هغې پورې اړوند لاملونو تر سرليک لاندې څېړنه تر سره کړې او موندلي يې ده، چې هغه لاملونه لکه پوهنځی، د زده‌کړې ځای، د زده‌کړې کچه، د زده کړې د پخوانيو او اوسنيو کچو تر منځ واټن، جنسيت او د اوسيدو ځای د تحصيلي لوېدنې سره تړاو لري.

غيبي او همکارانو (۱۳۸۹) په خپلو څېړنو کې دې پايلې ته رسېدلي چې بنسټيز لاملونه لکه ټولګي ته نه حاضرېدل، د شهادت‌نامې تر لاسه کولو او پوهنتون ته د داخليدو تر منځ اوږده واټن (د ښوونځي پرېښودل او پوهنتون ته داخليدل) له تحصيلي لوېدنې سره مانا لرونکي اړيکه لري . حسام او ثناګو (۱۳۹۱) په يوه څېړنه کې چې د تحصيلي لوېدنې او د محصلانو تحصيلي رضايت تر منځ اړيکه او ځېنو لاملونو په نظر کې نيولو سره د ګلستان د طبي علومو پوهنځی تر سره شوې، په ډاګه کړه چې د محصلانو د تحصيلي رضايت کچې متغيير د پلار له مسلک، د کورنۍ ملاتړ، له مشورې او لارښود استاد سره د پام وړ معنا لرونکي آماري اړيکه وليدل شوه. بندبني او د هغه همکارانو په (۱۳۹۵) کال کې د ګيلان ښار د طبي علومو پوهنتون د محصلانو له نظره د تحصيلي لوېدنې د مطالعې تر سرليک لاندې يوه څېړنه تر سره کړه او په دې اړه يې ځېنې لاملونه وڅېړل او دې پايلې ته ورسيدل چې د تحصيلي لوېدنې اړوند فردي ټولنيز لاملونه په کې شامل دي، لکه د محصلانو جنسيت ، تحصيلي مقطع، د مور د زده‌کړو کچه، د پلار دنده، د محصلانو د کار وضعيت او د تحصيلي رشتې غوره کولو څرنګوالی د دوو ډلو محصلانو تر منځ( هغه محصلان چې تحصيلي لوېدنه لري او هغه محصلان چې تحصيلي لوېدنه نه لري) د تحصيلي لوېدنې د پام وړ توپير ښودلی(۰۵/ ۰ >p ) (بندبنی او همکاران، ۱۳۹۵). مقيمي او د هغه همکارانو (۱۳۸۹) په يوه څېړنه کې چې

د ثانوي ښوونځیو د نارینه زده کوونکو تر منځ د ښوونیزو لاملونو او تحصیلي لوېدنې تر منځ د اړیکو مطالعه کول ، ښودلې چې د زده کړې لاملونه او د زده کوونکو تحصیلي لوېدنې او همدارنګه د هڅونې او مجازات، فردي توپیرونو ته لږه پاملرنه او نامناسب تحصیلي چاپېریال د تحصیلي لوېدنې سره د پاموړ اړیکه شتون لري. فردي لاملونه (هوښ، انګېزه او ځان ته درناوی)، ښوونېز لاملونه (د استاد او محصل اړیکې، مناسب تحصیلي شرایط او اسانتیاوې، هڅونه او مجازات، د زده‌کوونکو انفرادي توپیرونو ته لږه پاملرنه) او کورنۍ‌لاملونه ( د کورنۍ عاطفي شرایط، ټولنیز او اقتصادي شرایط، په کورنۍ کې د زده کړې او سواد کچه ، د کورنۍ د غړو شمېر ، د زده کوونکو ګومارنه ، د والدینو او ښوونکو تر منځ اړیکه ، د ډله ییزو اړیکو وسایلو، حکومتدارۍ او مادي ارزښتونو اغېزې). کمالي او رضایي (۱۳۹۸) د بندر عباس په طب پوهنځي د محصلانو تحصیلي لوېدنه د ټولنې د روغتیا په راتلونکي کې د اغېزمن لامل په توګه تر سرلیک لاندې یوه څېړنه تر سره کړه او پایلې یې وښوده چې د اوسېدو د حالت، د مور او پلار د زده‌کړو او تحصیلي لوېدنې تر منځ اړیکه شتون لري(P-≤Value ۰/۰۰۵). محمدي او همکارانو(۱۳۹۹) د سمنان د طبي علومو پوهنتون د روغتیايي رشتي محصلانو د تحصیلي لوېدنې په اړه څېړنه تر سره کړې او پایلې یې ښئي چې تحصیلي لوېدنه له تأهل وضعیت، سمستر او تحصیلي کچې، د استوګنې ځای څخه تر پوهنتون پورې واټن، د تحصیلي رشتې غوره کول، په ټولګیو کې فزیکي شتون او د محصلانو دقت او تمرکز تر منځ د پاموړ اړیکه لیدل شوې ده. راستیان او همکارانو (۱۳۹۳) کې د تحصیلي لوېدنې سره د مقابلې لپاره ستراتېژۍ؛ تر سرلیک لاندې کتابتوني څېړنه تر سره کړې او وایي چې د څېړنې پایلې ښئي چې تحصیلي لوېدنه بېلابېل لاملونه لري چې په څلورو کټګوریو وېشل کېدای شي، انفرادي لاملونه ( د هڅونې نشتوالی، په ځان د باور کموالی، د پلان نشتوالی) کورنۍ لاملونه (د والدینو تر منځ غیر معمولي اړیکه، مادي او کلتوري فقر)، ټولنیز لاملونه ( روږدیتوب، د مصرف تجمل ګرایي خپرېدل) او ښوونیز لاملونه (د ښوونکي د تدریس مېتود، د درسي کتاب منځپانګې او د ارزونې مېتود). فتی او همکارانو (۱۳۹۲) د طب محصلانو د تحصیلي لوېدنې د لاملونو سیستماتیکي بیاکتنې تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې او وایي چې د منځپانګې تحلیل، جنسیت، په لیلیه کې ژوند، په کار ګومارل، واده، عمر، د منلو (سهمیې) کچه، له ښوونځي څخه د فراغت او پوهنتون ته د ننوتلو تر منځ اوږد واټن د طب محصلانو په تحصیلي لوېدنې باندې اغیزمن لاملونه ګڼل کېږي. پردانجاني او همکارانو (۱۳۹۰) د ګلستان د طبي علومو پوهنتون د پارامېډیکل او روغتیا پوهنځیو په لیلیه کې د محصلانو د تحصیلي لوېدنې فریکونسۍ او اغیزمن لاملونه وڅېړل او دې نتیجې ته ورسېد چې د تحصیلي لوېدنې، د مور او پلار د زده‌کړو کچې، اقتصادي وضعیت او د محصلانو د سګرټ څکولو تر منځ د پاموړ اړیکه شتون لري. همدارنګه ، د هغو لاملونو په منځ کې چې پر تحصیلي پرمختګ، په درسي

ټولګي کې دقت او تمرکز او په کانکور ازموینه کې د منل کېدو سیمه له تحصیلي لوېدنې سره د پاموړ اړیکه و موندل شو.

مقدم او کمالي‌فر(۱۳۹۱) د لومړۍ کېمیا په درس کې د آمول ښار د نارینه زده‌کونکو د تحصیلي لوېدنې د مهمو لاملونو پیژندلو په اړه څېړنه کې، د پایلو له مخې اقتصادي وضعیت، والدینو د سواد کچه، ښوونکي د تدریس مېتود، د ازموینې پوښتنې، تحصیلي مخینه او په راتلونکي کې د کار اړتیاوې د تحصیلي لوېدنې د مهمو لاملونو په توګه پیژندل شوي. سیمائی(۱۳۹۷) د اروایي روغتیا او د لومړنیو ښوونځیو د زده کوونکو د تحصیلي لوېدنې تر منځ د اړیکو په اړه څېړنه تر سره کړې او پایلې یې په ۱۳۹۴ کې د ترکیې په استانبول ښار کې د ساینس او ټیکنالوژۍ په اړه دویم نړیوال کنفرانس ته وړاندې کړې. پایلې ښئي چې د تحصیلي لوېدنې او اروایي روغتیا تر منځ منفي او د پاموړ اړیکه شتون لري.

افشاري (۱۳۹۵) د تحصیلي لوېدنې لاملونه او د زده کوونکو په تحصیلي پرمختګ کې د والدینو د سواد کچې اغېزې په اړه څېړنه کې ، دې پایلې ته رسېدلي چې د والدینو د زده‌کړو کچه د ماشومانو په تحصیلي پرمختګ کې مستقیم رول لري.

شکرکن او همکارانو (۱۳۹۷) د ایران په اهواز ښار کې د هلکانو په لېسو کې د تحصیلي لوېدنې د مهمو لاملونو څېړنه تر سره کړه او د تحصیلي لوېدنې خورا مهم لامل یې په لاندې ډول په ګوته کړل: د تحصیلي پلان جوړونې اړوند مسائل، کورنۍ او روغتیا ستونزې، چاپېریالي ستونزې، د ټولنیز چلند مسائل، د ودې پورې اړوند مسائل، د ازموینې ، د درسي کتابونو ، ښوونیزو ، عمومي مسئلې او کورنۍ اختلافات.

د تحصیلي لوېدنې په اړه بېلابېل تعبیرونه او تعریفونه وړاندې شوي چې د ټولو ګډه ځانګړنه د رسمي زده کړو په مخته وړلو کې د بریالیتوب نشتوالی او ناکامي ده. په اصل کې، ځینې په دې باور دي چې "د تحصیلي لوېدنې اصطلاح یا په ښوونه او روزنه کې لوېدنه د اقتصاد پوهانو له ژبې څخه اخېستل شوي. په تحصیلي لوېدنه کې د تحصیلي ناکامۍ مختلف اړخونه شامل دي، لکه په ښوونځي - پوهنتون کې په پرله پسې ډول غیر حاضري، له ټاکل شوي وخت څخه د زده کړو په مکرر ډول پرېښودل، د لومړنیو زده‌کړو بیاځلي تکرار ، د زده کړې ټیټ کیفیت، او د معلوماتو پر ځای د محفوظاتو تر لاسه کول(تمنایی‌فر او همکاران، ۱۳۸٦).

**د څېړنې موخه**: په دې څېړنه کې هڅه شوې چې په لوګر پوهنتون کې د محصلانو پر تحصیلي افت اغېزناک عوامل وپېژندل او اولویت بندي شي؛ ځکه چې د تحصیلي افت لاملونو پېژندل او له هغوی سره د پوهې او تدبیر پر بنسټ چلند، کولای شي د تحصیلي نظام مؤثریت لوړ کړي، علمي بنسټونه داسې کادرونه وروزي او ټولنې ته وړاندې کړي چې د ټولنې او بازار اړتیاوو ته ځواب ووایي او بلاخره د ځوانو نسلونو لپاره د پوهې او علم لاره نوره هم اسانه کړي.

**د څېړنې پوښتنې**: دا دي چې لوګر پوهنتون محصلانو پر تحصیلي افت اغېزناک لاملونه کوم دي؟ کوم یې تر ټولو ډېر او تر ټولو لږ اغېز لري؟ او د تأهل، په تفکیک سره پر تحصیلي افت اغېزناکو څه دي؟

## د څېړنې کړنلاره او مواد

لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت د مؤثرو عواملو څېړل(۱۳۹۹-۱۴۰۳) تر سرلیک لاندې څېړنه د څېړنې ډول او معلوماتو راټولولو له نظره یوه کمي څېړنه ده، د ځای له نظره یوه ساحوي«میداني» څېړنه، د موخې له نظره یوه کارېدونکي او د مېتود له نظره توصیفي - تحلیلي څېړنه ده. د څېړنې د نفوسو ټولنه یا جمعیت، لوګر پوهنتون د څلورو پوهنځیو (ښوونې او روزنې، کرنې، جیولوجي او کانونو او شرعیاتو) محصلان دي چې ټولټال شمېر یې (۱۳۰۰) تنه دی. په دې څېړنه کې د نمونې حجم ټاکلو لپاره د کوکران فورمول څخه ګټه اخیستل شوې. له ټولټال«۱۳۰۰» تنو محصلانو څخه «۲۹۷» تنه د نمونې په توګه ټاکل شوي دي. د څېړنې د اعتبار لپاره پوښتنپاڼې ډېرې ووېشل شوې او ۳۱۳ پوښتنپاڼې تر لاسه او ټولې تحلیل شوې. د معلوماتو راټولولو لپاره، د ۷۷ سؤاله پوښتنپاڼې  څخه په فزیکي او آنلاین ډول استفاده شوې او د پوښتنپاڼې وېش په ساده تصادفي ډول تر سره شوی دی. پوښتنپاڼه ټولټال ۷۷ پوښتنې او ۱۳ مؤلفې یا شاخصونه لري، چې عبارت دي له: په زده‌کوونکو پورې اړوند فردي عوامل، په استادانو پورې اړوند فردي عوامل، د استادانو د تدریس مېتود اړوند عوامل، د استادانو د ارزونې مېتود عوامل، اقتصادي عوامل، کورنې عوامل، ټولنیز- فرهنګي عوامل، د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای اړوند عوامل، د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل، د درسي محتوا اړوند عوامل، د تحصیلي څانګې اړوند عوامل، سیاسي عوامل او په ښوونځي پورې اړوند عوامل دي.  دغه پوښتنپاڼه د محتوا اعتبار مېتود سره تر سره شوه او د تحصیلي افت مربوط پوښتنو کې د لازمو اصلاحاتو(سمونو، کمونو او زیاتونو) وروسته د استادانو اصلاحي نظریات پکې اعمال او پوښتنپاڼه جوړه شوه.

دغه پوښتنپاڼه چې ۷۷ پوښتنې او ۱۳ فکتورونه (مؤلفې) لري او د پوښتنو ځوابونو لپاره د پېنځه انتخابي لیکرټ طیف(بشپړ مخالف یم، مخالف یم، نظر نه لرم، موافق یم او بشپړ موافق یم) کارول شوی دی. د ځوابونو د نومرو ورکړه له یو څخه تر پېنځو (له بشپړ مخالف تر بشپړ موافق) پورې درجه بندي شوې چې په لاندې ډول دي: په بشپړ ډول موافق یم (۵)، موافق یم (۴)، نظر نه لرم (۳)، مخالف یم (۲) او په بشپړ ډول مخالف یم (۱).

په دغې پوښتنپاڼه کې(له ۱۱ تر ۸) پوښتنې د محصلانو اړوند فردي عواملو پورې اړه لري، (له ۹ تر ۱۳) پوښتنې د استادانو اړوند فردي عواملو پورې اړه لري،  (له ۱۴ تر ۱۸)  پوښتنې د استادانو د تدریس مېتود اړوند عواملو پورې اړه لري، (له ۱۹ تر ۲۳) پوښتنې د استادانو د ارزونې مېتودونو اړوند عواملو پورې اړه لري، (له ۲۴ تر ۲۸) پوښتنې په اقتصادي عواملو پورې اړه لري، (له ۲۹ تر ۳۷) پوښتنې په کورنیو عواملو

پوري اړه لري، (له ۳۸ تر ۴۳) پوښتنې په اقتصادي عواملو پورې اړه لري، له (له ۴۴ تر ۵۲) پوښتنې په ښوونيز چاپېريال او اوسېدو ځای عواملو پورې اړه لري، (له ۵۳ تر ٥٦) پوښتنې په سرچینو او امکاناتو عواملو پورې اړه لري، (له ۵۷ تر ۵۹) پوښتنې په درسي محتوا عواملو پورې اړه لري، (له ٦۰ تر ٦٦) پوښتنې په تحصيلي رشتې عواملو پوري اړه لري، (له ٦۷ تر ۷۰) پوښتنې په سیاسي عواملو پورې اړه لري او (له ۷۱ تر ۷۷) پوښتنې په ښوونځي اړوند عواملو پوري اړه لري. د پوښتنپاڼې اعتبار د کرونباخ الفا مېتود پر بنسټ (۰,۹٦۴) تر لاسه شوی. اطلاعات د 26SPSS- په واسطه د ( Repeated Measures Define Factor) او (Independent - Samples T Test) ټېسټونو په کارولو سره تحلیل شوي دي.

## موندنې

په دغې برخه کې لومړی د څېړنې ګډونوال د دموګرافیکي ځانګړنو موندنې په لومړي جدول راوړل شوې دي او ورپسې د څېړنې هرې پوښتنې ځواب په جدولونو او توضیحاتو سره ذکر شوی دی.

۱ جدول: د دموګرافیکي مشخصاتو موندنې

| متغيير | کټګوري | شمېر | فیصدي | ټولټال |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| پوهنځی | ښوونه او روزنه | ۱۴۱ | ۴۵,۰٪ | ۳۱۳ |
| | کرنه | ۳۷ | ۱۱,۸٪ | |
| | جیولوجي او کانونه | ۱۳۱ | ۴۱,۹٪ | |
| | شرعيات | ۴ | ۱,۳٪ | |
| تحصیلي کال (ټولګی) | اول | ۵۱ | ۱٦,۳٪ | ۳۱۳ |
| | دويم | ۷٦ | ۲۴,۳٪ | |
| | دريیم | ۹۱ | ۲۹,۱٪ | |
| | څلورم | ۹۵ | ۳۰,۴٪ | |
| سن | له ۱۸ تر ۲۱ کاله | ۱٦۵ | ۵۲,۷٪ | ۳۱۳ |
| | له ۲۲ تر ۲۴ کاله | ۱۲۳ | ۳۹,۳٪ | |
| | له ۲۵ تر ۲۷ کاله | ۱۸ | ۵,۸٪ | |
| | له ۲۸تر ۳۰ کاله | ۳ | ۱,۰٪ | |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | له ۳۱ تر ۳۵ کاله | ۴ | ۱,۳٪ | |
| تأهل | مجرد | ۲۳۵ | ۷۵,۱٪ | ۳۱۳ |
| | متأهل | ۷۸ | ۲۴,۹٪ | |
| استوګنه | ښاري | ۹۳ | ۲۹,۷٪ | ۳۱۳ |
| | کلیوالي | ۲۲۰ | ۷۰,۳٪ | |
| اقتصادي وضعیت | ډېر ضعیف | ۷۹ | ۲۵,۲٪ | ۳۱۳ |
| | ضعیف | ۷۵ | ۲۴,۰٪ | |
| | متوسط | ۱۲۳ | ۳۹,۳٪ | |
| | قوي | ۳۰ | ۹,٦٪ | |
| | ډېر قوي | ٦ | ۱,۹٪ | |
| پلار سواد | لوستی | ۱۵۹ | ۵۰,۸۰٪ | ۳۱۳ |
| | نالوستی | ۱۵۴ | ۴۹,۲۰٪ | |
| له تحصیلي رشتې رضایت | ډېر لږ | ۱۵ | ۴,۸٪ | ۳۱۳ |
| | لږ | ۲۴ | ۷,۷٪ | |
| | متوسط | ۸۳ | ۲٦,۵٪ | |
| | زیات | ۱۰۱ | ۳۲,۲٪ | |
| | ډېر زیات | ۹۰ | ۲۸,۸٪ | |
| چانس | چانس یې خوړلی | ۱۷۷ | ۵٦,۵٪ | ۳۱۳ |
| | چانس یې نه دی خوړلی | ۱۳٦ | ۴۳,۵٪ | |
| خو چانسونه | یو | ۹٦ | ۲۲,۰ | ۳۱۳ |
| | دوه | ٦۰ | ۱۹,۲٪ | |
| | دري | ۲۷ | ۸,٦٪ | |

| | | |
|---|---|---|
| څلور | ۱۲ | ۳,۸٪ |
| پينځه | ۹ | ۲,۹٪ |
| هېڅ چانس | ۱۳ | ۴۳,۵٪ |
| | ٦ | |

د لومړۍ جدول ارقام ښئي چې په څېړنه کې تر ټولو ډېر د ښوونې او روزنې پوهنځي محصلانو ګډون کړی دي. د تحصيلي کال له مخې تر ټولو ډېر د څلورمو ټولګيو او مجرد محصلانو ګډون کړی دی. ډېری ګډونوال متوسط اقتصادي وضعيت لري. زيات شمېر يې له تحصيلي ځانګې ښخه رضايت لري. د جدول ارقام ښئي چې له پنځوس سلنه ښخه ډېر ګډونوال په تحصيلي دوره کې له يو تر پينځه ځل پورې چانس شوي دي.

## د څېړنې لومړۍ پوښتنه: کوم عوامل لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصيلي افت ډېر اغېز لري؟

د محصلانو پر تحصيلي افت د مؤثر عواملو اولويت بندي معلومولو لپاره له مکررو اندازو تحليل واريانس (Repeated Measures Define Factor) ټېسټ ګټه اخيستل شوې ده؛ پايلې يې په لاندې جدول کې ښودل شوې.

۲ جدول: د محصلانو پر تحصيلي غورځېدنې د آغېزمنو لاملونو لومړيتوب بندي

| متغيير | شمېر | اوسط | ستندرډ انحراف | F | P-value |
|---|---|---|---|---|---|
| ښوونيز چاپېريال‌اواوسېدو ځای عوامل | ۳ ۱۳ | ۳۴, ۳۴۸۳ | ۷,۳۵۴۳۱ | | |
| کورني عوامل | ۳ ۱۳ | ۳۳, ۵۵۴۹ | ۸,۰۴۳۲٦ | | |
| د محصلانو فردي عوامل | ۳ ۱۳ | ۳۰, ۲۲۱۱ | ۵,۱۴۷۰۸ | .۴۲۱ | ۰۰۰۱ |
| د ښوونځي اړوند عوامل | ۳ ۱۳ | ۲۷, ۴۱۹۲ | ٦,۴۴۹۰۴ | ۷۸۱ | ۰. |
| د تحصيلي ځانګې اړوند عوامل | ۳ ۱۳ | ۲٦, ۴٦۲۵ | ٦,۷۷۳۷۴ | | |
| ټولنيز -فرهنګي عوامل | ۳ ۱۳ | ۲۳, ۰۵۰۲ | ۵,۷۹۹٦۲ | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| اقتصادي عوامل | ۳<br>۱۳ | ۱۹,<br>۲۲٦۰ | ۴,۰۵۸۹۷ |
| د استادانو د ارزونې اړوند عوامل | ۳<br>۱۳ | ۱۸,<br>٦۳۴۲ | ۴,٦۳۸٦۳ |
| د استادانو تدریس مېتود اړوند عوامل | ۳<br>۱۳ | ۱۸,<br>۴۵٦۲ | ۴,۳۵۷۰۵ |
| د استادانو اړوند فردي عوامل | ۳<br>۱۳ | ۱۷,<br>۵۵٦۵ | ۴,۸٦۹۹۴ |
| د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل | ۳<br>۱۳ | ۱۵,<br>۴۹۴۲ | ۳,٦۹۰۸۹ |
| سیاسيعومل | ۳<br>۱۳ | ۱۵,<br>۳۹۹۵ | ۳,۸۴۹٦۵ |
| د درسي محتوا اړوند عوامل | ۳<br>۱۳ | ۱۱,<br>۵٦۱۵ | ۲,۷۱۵۵۰ |

پورتني(۲) جدول د تحلیل واریانس پایلې ښئي چې اوسطونو ته په کتو د محصلانو پر تحصیلي افت په ترتیب لاندي موارد اغېز لري: ۱) د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل؛ ۲) کورني عوامل؛ ۳) د محصلانو فردي عوامل؛ ۴) په ښوونځي پورې اړوند عوامل؛ ۵) د تحصیلي ځانګې اړوند عوامل؛ ٦) ټولنیز – فرهنګي عوامل؛ ۷) اقتصادي عوامل؛ ۸) د استادانو د ارزونې اړوند عوامل؛ ۹) د استادانو تدریس مېتود اړوند عوامل؛ ۱۰) د استادانو اړوند فردي عوامل؛ ۱۱) د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل؛ ۱۲) سیاسي عوامل؛ او ۱۳) د درسي محتوا اړوند عوامل. د یادولو ده چې ترټول ډېر د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل او ترټولو لږ د درسي محتوا اړوند عوامل د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

**درېیمه پوښتنه: ایا د محصلانو پر تحصیلي افت اغېزمن عوامل د تأهل له مخې توپیر لرونکي دي؟**

د تأهل پر بنسټ د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې یا افت د اغېزمنو عواملو پېژندلو لپاره له خپلواک تي ټېسټ (Independent - Samples T Test) څخه ګټه اخېستل شوې، ترڅو د تأهل له مخې د هغوی اوسطونه او د مانادارئ کچه معلوم شي. د یاد ټېسټ پایلې په ۴-۱٦ جدول کې ښودل شوې دي.

۴ جدول: مجرد او متأهل محصلانو پر تحصیلي افت د مؤثرو علواملو د اوسط پرتلنه

| متغییر | تأهل | شمېر | اوسط | انحراف معیاري | T | درجه آزادی Df | P-value(Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ښوونیز چاپېریالاواوسېدو ځای عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۳۴,۱۷۹۷ | ۷,۴۳۹۹۱ | -.۷۰۳ | ۳۱۱ | ۰,۸۲۷ |
| | متأهل | ۷۸ | ۸۵٦۲.۳۴ | ۷,۱۲۸۰ | | | |
| کورني عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۳۳,۰۴۳۰ | ۷,۴۳٦۸٦ | -۱,۹٦۳ | ۳۱۱ | ۰,۳۳۹ |
| | متأهل | ۷۸ | ۳۵,۰۹۷۳ | ۹,۵۳۱٦۱ | | | |
| د محصلانو فردي عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۳۰,۰۸۱۲ | ۵,۳۲۷۴۱ | -.۹۰۱ | ۱۵۲,۰۵٦ | ۰,۰۵۹ |
| | متأهل | ۷۸ | ۳۰,٦۴۲۵ | ۴,۵٦٦۹۳ | | | |
| د ښوونځي اړوند عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۷,۲۲۹۵ | ٦,٦۱۵۹۳ | -.۹۰۳ | ۳۱۱ | ۰.۱۰۱ |
| | متأهل | ۷۸ | ۲۷,۹۹۰۸ | ۵,۹۲۱۴۱ | | | |
| د تحصیلي ځانګې اړوند عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۲٦,۷۹۰٦ | ٦,۷۸۱۱۴ | ۱,۴۹۰ | ۳۱۱ | ۰,۱۲۱ |
| | متأهل | ۷۸ | ۲۵,۴۷۴۲ | ٦,٦۹۷۵۳ | | | |
| ټولنیز - فرهنګي عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۲,۹۴۹۱ | ٦,۱۰۳٦۲ | -.۵۳۵ | ۳۱۱ | ۰,۵۱۰ |
| | متأهل | ۷۸ | ۲۳,۳۵۴۹ | ۴,۷۹۰٦۳ | | | |
| اقتصادي عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۱۹,۰۸۵۱ | ۴,۰۱۷۲۸ | -۱.۰٦۴ | ۳۱۱ | ۰,۴۷۱ |
| | متأهل | ۷۸ | ۱۹,٦۵۰٦ | ۴,۱۷۹٦۰ | | | |
| د استادانو د ارزوني اړوند عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۱۸,٦۵۷۱ | ۴,۸٦٦۴٦ | .۱۵۱ | ۳۱۱ | ۰,۷۴۱ |
| | متأهل | ۷۸ | ۱۸,۵٦۵۱ | ۴,۵۲۰۴۴ | | | |
| د استادانو تدریس مېتود اړوند عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۱۸,۴۱۳۹ | ۴,۴۲۴۸۸ | -.۲۹۸ | ۳۱۱ | ۰,۵۸٦ |
| | متأهل | ۷۸ | ۱۸,۵۸۳۹ | ۴,۱۷۱۱۱ | | | |
| استادانو اړوند فردي عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۱۷,٦۰۲۸ | ۴,۸۴۸۴۲ | .۲۹۲ | ۳۱۱ | ۰,۹۱۷ |
| | متأهل | ۷۸ | ۱۷,۴۱٦۹ | ۴,۹٦۳۲۹ | | | |
| د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۱۵,۳۰۴۷ | ۳,۸۵۱۱۱ | -۱.۷۵۸ | ۴۲۲,۱٦۱ | ۰,۰۲۷ |
| | متأهل | ۷۸ | ۱٦,۰٦۵۳ | ۳,۱۱۲۴۵ | | | |
| سیاسي عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۱۵,۳۲۹۵ | ۳,۸۳۰۹٦ | -.۵۵۸ | ۳۱۱ | ۰,۹۷۸ |
| | متأهل | ۷۸ | ۱۵,٦۱۰۳ | ۳,۹۳۳۸۴ | | | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د درسي محتوا اړوند عوامل | مجرد | ۲۳۵ | ۲۲,۴۵۳۹ | ۲,۷۹۳۰۲ | -۱.۲۱۸ | ۳۱۱ | ۰,۲۲۴ |
| | متأهل | ۷۸ | ۱۱,۸۸۵٦ | ۲,۴۵۵٦٦ | | | |

د پورتني (۴) شمېرې جدول پر بنسټ، ویلای شو چې په ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای پورې اړوند د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ خو دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۸۲۷ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. په کورني عواملو کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ خو دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ درجه کې ۰,۳۳۹ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. د محصلانو فردي عواملو په برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ خو دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۱۵۲,۰۵٦ ازادۍ دردرجه کې ۰,۰۵۹ مانالرونکی په لاس راغلی دی. د ښوونځي اړوند عواملو په برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ خو دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ درجه کې ۰,۱۰۱ مانالرونکی نه دی په لاس راغلی. د تحصیلي ځانګې اړوند عواملو برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ خو دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۱۲۱ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. د ټولنیزو - فرهنګي عواملو برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ خو دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۵۱۰ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. د اقتصادي عواملو برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۴۷۱ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. د استادانو د اروزنې اړوند عواملو برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ درجه کې ۰,۷۴۱ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی.

د استادانو د تدریس مېتود اړوند عواملو اغېز برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۵۸٦ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. د استادانو اړوند فردي عواملو برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۳۱۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۹۱۷ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. د سرچینو او امکاناتو اړوند عوامل برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د ۴۲۲,۱٦۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۰۲۷ مانالرونکی په لاس راغلی دی. د سیاسي عواملو برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوې تې(T) کچې د۳۱۱ ازادۍ دردرجه کې ۰,۹۷۸ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی. د درسي

محتوا اړوند عواملو برخه کې د مجرد او متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوي تي(T) کچې د۳۱۱ازادی دردرجه کې ۰,۲۲۴. مانالرونکی په لاس نه دی راغلی.

۵ جدول: د متفاوت تأهل پر بنسټ د محصلانو پر تحصیلي افت د مؤثرو علواملو د اوسط پرتلنه

| متغییر | تأهل | شمیر | اوسط | معیاري انحراف | T | آزادی دردرجه Df | P-value(Sig) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تأهل | مجرد | ۲۳۳۵ | ۲۹۰,۱۱۹۹ | ۴۸,۴۰۹۹۵ | -.۸۰۴ | ۳۱۱ | ۰,۹۱۶ |
| | متأهل | ۷۸ | ۲۹۵,۱۹۳۶ | ۴۷,۸۸۴۲۳ | | | |

د پورتني(۵) جدول پر بنسټ ویلای شو چې په ټوله کې د مجرد محصلانو اوسط او د متأهل محصلانو اوسط متفاوت په لاس راغلی؛ دغه توپیر د تر لاسه شوي تي(T) کچې د ۳۱۱ ازادی دردرجه کې ۰,۹۱۶ مانالرونکی په لاس نه دی راغلی دی.

## مناقشه

لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي لوېدني د مؤثر عواملو څېړل ۱۳۹۹ -۱۴۰۳، تر سرلیک لاندې څېړنه په لوګر پوهنتون کې تر سره شوې. د محصلانو پر تحصیلي لوېدني د مؤثر عواملو په اړه ګنې څېړنې شوې دي چې متفاوتې پایلې یکې تر لاسه شوې دي. د دې څېړنې پایلې، په یاده برخه کې د مخکنیو تر سره شویو څېړنو له پایلو سره په ځینو برخو کې ورته؛ خو په ځینو برخو کې توپیر لري چې په لاندې ډول بیان شوي دي:

د څېړنې د لومړۍ پوښتنې(لوګر پوهنتون د محصلانو د تحصیلي غورځېدنې (افت تحصیلی) د لاملونو څېړل) په اړه د څېړنې موندنې ښئي چې لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي افت مؤثر عواملو کې ترټول ډېر د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل او ترټولو لږ د درسي محتوا اړوند عوامل د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري.

د څېړنې دغه موندنې د خیلواک او نجیب د څېړنې له موندنو سره توپیر لري. هغوی په ۱۴۰۱ کال کې لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې(افت تحصیلی) د مؤثرو لاملونو څېړل تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې. پایلې یې ښئي چې د محصلانو پر تحصیلي افت یا لوېدنې تر ټول ډېر د محصلانو فردي عوامل او ترټولو لږ د پوهنځیو رهبري اغېز لري او په ترتیب لاندې عوامل د محصلانو پر تحصیلي افت اغېز لري: لومړی، خپله د محصلان فردي عوامل؛ دویم، کورني عوامل؛ دریېم، تحصیلي رشته؛ څلورم، استادانو تدریس مېتود؛ پینځم، اقتصادی عوامل؛ شپږم؛ ښوونځیو ضعف، اووم، ټولنیز-فرهنګي عوامل؛ اتم، درسي محتوا؛ نهم، د استاد د ارزوني مېتود؛ لسم، منابع او امکانات؛ یوولسم، سیاسي عوامل؛ دولسم، د پوهنځیو

رهبري. همداراز، بندبني او همکاران په ۱۳۹۵ کال ایران هېواد کې د (ګیلان د طبي علومو پوهنتون د محصلینو له نظره د تحصیلي لوېدنې او د هغه اړوند لاملونو څېړل) څېړنه تر سره کړې ده. پایلې یې ښئي چې د تحصیلي لوېدنې پورې اړوند انفرادي او ټولنیز لاملونه، د تحصیلي رشتې د غوره کولو څرنګوالی، د هغو محصلانو تر منځ چې تحصیلي لوېدنه لري او هغه محصلان چې تحصیلي لوېدنه نلري پام وړ توپیر ښودل شوی $p < 0.05/0.05$. پر دې سربېره، راستیان و همکارانو یې په ۱۳۹۳ کال کې د (له تحصیلي لوېدنې سره د مقابلې لپاره ستراتیژۍ) تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې. پایلې یې ښئي چې تحصیلي لوېدنه بېلابېل لاملونه لري لکه؛ انفرادي ، کورنی ، ټولنیز او ښوونېز لاملونه.

د څېړنې د دویمې پوښتنې(د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېزناک لاملونه د تحصیلي کال(ټولګي) پر بنسټ توپیر لرونکي دي؟) په اړه د څېړنې موندنې ښئي، چې لوګر پوهنتون د محصلانو تحصیلي کال یا ټولګیو پر بنسټ تحصیلي افت توپیر لري. د تحصیلي کال له مخې تحصیلي افت په ترتیب عبارت دی له: ۱. څلورم ټولګي، ۲. لومړي ټولګي، ۳. دویم ټولګي او ۴. درېیم ټولګي. تر ټولو لوړ تحصیلي افت په څلورمو ټولګیو او تر ټولو ټیټ تحصیلي افت په درېیمو ټولګیو کې دی.

د څېړنې دغه موندنې د پورمحمدي او همکارانو د څېړنې له موندنو سره ورته لري، هغوی په ۱۳۹۹ کال کې (د سمنان طبي پوهنتون حفظ الصحې څانګې محصلانو تحصیلي افت) تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده. پایلې یې ښئي چې د تحصیلي افت او تحصیلي سېمیسترونو تر منځ توپیر شتون درلود او تحصیلي لوېدنه د تأهل وضعیت سره د پاموړ اړیکه لري.

د څېړنې د درېیمې پوښتنې(د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې اغېزناک لاملونه د تأهل پر بنسټ معنا لرونکي او توپیر لرونکي دي؟) په اړه د څېړنې موندنې ښئي، چې د تأهل پر بنسټ د محصلانو پر تحصیلي افت اغېزناک عوامل لږ توپیر لري چې د محصلانو اړوند فردي عواملو او د استادانو اړوند فردي عواملو کې دغه توپیر مانالرونکی دی او په پاتې نورو عواملو کې توپیر لري؛ خو مانا لرونکی نه دی.

د څېړنې دغه موندنې د خپلواک او نجیب د څېړنې له موندنو سره ورته لري. هغوی په ۱۴۰۱ کال کې لوګر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې(افت تحصیلی) د مؤثرو لاملونو څېړل تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې. پایلې یې ښئي، د تأهل پر بنسټ د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې مؤثر عوامل توپیر لري چې د استادانو د تدریس مېتود اړوند عوامل، ټولنیز – فرهنګي عوامل، د استادانو د ارزونې اړوند عوامل او کورني عوامل یې مانالرونکی توپیر لري او پاتې نور یې توپیر لري؛ خو مانالرونکی نه دی.

همداراز، پارسي او همکارانو په ۱۳۹۷ کال ایران هېواد کې د (د مازندران د طبي علومو پوهنتون په بیلابیلو کچو کې د محصلانو تر مینځ د تحصیلي لوېدنې کچه او لاملونو څېړل) ترسرلیک لاندې څېړنه تر

سره کړې ده. پایلې یې ښئي چې له تحصیلي لوېدنه د تأهل او تحصیلي رشتې سره د پاموړ اړیکه شتون لري.

پر دې سربېره، فتی او همکارانو یې په ۱۳۹۲ کال ایران هېواد کې (د طب محصلانو د تحصیلي لوېدنې لاملونو سیستماتیکه بیاکتنه) ترسرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې ده. پایلې یې ښئي چې د منځپانگې د تحلیل له مخې، تأهل د طب په محصلانو کې د تحصیلي لوېدنې اغیزمن لاملونه گڼل کېږي. د څېړنې د څلورمې پوښتنې(د تحصیلي رشتې پر بنسټ لوگر پوهنتون محصلانو د تحصیلي لوېدنې یو له بل سره توپیر لري؟) په اړه د څېړنې موندنې ښئي، چې تحصیلي رشتې پر بنسټ، لوگر پوهنتون د محصلانو تحصیلي افت توپیر لري. په کرنه پوهنځي کې په لوړه او لومړۍ کچه دی، په ښوونه او روزنه پوهنځي کې په دویمه او کچه دی، په شرعیاتو پوهنځي کې په درېیمه کچه دی او په جیولوجي او کانونو پوهنځي کې په څلورمه او ټیټه کچه دی.

د څېړنې دغه موندنې د خپلواک او نجیب د څېړنې له موندنو سره توپیر لري. هغوی په ۱۴۰۱ کال کې لوگر پوهنتون د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې(افت تحصیلی) د مؤثرو لاملونو څېړل تر سرلیک لاندې څېړنه تر سره کړې. پایلې یې ښئي، د تحصیلي رشتې پر بنسټ، په ښوونه او روزنه کې د محصلانو تحصیلي لوېدنه لوړه، په جیولوجي او کانونو پوهنځي کې متوسطه او په کرنه کې ټیټه ده.

## پایلیزه

د لوگر پوهنتون محصلانو پر تحصیلي افت د اغېزمنو عواملو څېړنه د ۱۳۹۹-۱۴۰۳ کلونو تر منځ تر سره شوه چې د محصلانو د تحصیلي لوېدنې عوامل وڅېړي. څېړنې څرگنده کړه چې لوگر پوهنتون د محصلانو تحصیلي افت د گڼو عواملو له امله رامنځته کېږي؛ خو تر ټولو زیات د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل، کورني عوامل، د محصلانو فردي عوامل او په ښوونځي پورې اړوند عوامل پرې اغېز لري.

د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل د تحصیلي افت تر ټولو مهم لاملونه وو چې ښئي د زده‌کړې فزیکي چاپېریال، استوگنځي شرایط، او د پوهنتون شته امکانات د محصلانو د زده‌کړې پر کیفیت مستقیم اغېز لري. کورني عوامل، لکه د والدینو سواد، د کورني اقتصاد وضعیت، او د کورنۍ ملاتړ، د زده‌کړې په دوام او کیفیت کې مهم رول لري. د محصلانو فردي عوامل، لکه زده‌کړې ته لیوالتیا، د ذهني فشار مدیریت او زده‌کړه ییز عادتونه، هم د تحصیلي افت په کچه کې مهم رول لري. اقتصادي عوامل د محصلانو د زده‌کړو د دوام پر ظرفیت مستقیم تاثیر لري، ځکه اقتصادي ستونزې محصلان اړ باسي چې د زده‌کړې پر ځای کاري بوختیاوو ته لومړیتوب ورکړي. په ښوونځي پورې اړوند عوامل، لکه د ښوونکو غیرمسلکیتوب، ضعیف مدیریت، ټیټ کیفیت تعلیم او گڼ نور د محصلانو د تحصیلي افت کې مهم رول لري.

د څېړنې موندنې څرګندوي چې  لوګر پوهنتون د محصلانو تحصیلي افت یوه څو اړخیزه ستونزه ده، چې د فردي، کورني، ښوونیز، اقتصادي او چاپېریالي عواملو ګډه پایله ده، خو تر ټولو زیات د ښوونیز چاپېریال او اوسېدو ځای عوامل، کورني عوامل، د محصلانو فردي عوامل او په ښوونځي پورې اړوند عوامل پرې اغېز لري. له دې څېړنې دا نتیجه اخېستل کېدای شي چې د محصلانو د تحصیلي افت کمولو لپاره یوازې په تحصیلي پروګرامونو تمرکز بسنه نه‌کوي، بلکې د زده‌کړې چاپېریال ښه‌والی، د کورنۍ ملاتړ، د محصلانو اقتصادي وضعیت او د استادانو مسلکي وړتیاوې هم د پام وړ رول لري. د څېړنې له موندنو څرګندېږي چې پوهنتون دې د تدریس د کیفیت د لوړولو، د زده‌کړې فزیکي شرایطو د ښه کولو، د محصلانو د استوګنې د اسانتیاوو برابرولو او د اقتصادي ملاتړ د میکانیزمونو د رامنځته کولو په برخه کې عملي ګامونه واخلي، ترڅو د تحصیلي افت کچه په څرګند ډول را ټیټه شي. په همدې توګه، د کورنیو همکاري، د استادانو مسلکي روزنه او د محصلانو د مطالعې او زده‌کړې کړنلارو اصلاح د دې ستونزې د اوږدمهاله حل لپاره بنسټیز ارزښت لري. په پایله کې، د څېړنې موندنو پر بنسټ ویلای شو چې د تحصیلي افت د مخنیوي او کمولو، او د زده‌کړې د کیفیت د لوړولو لپاره باید یوه ګډه او هر اړخیزه ستراتیژي رامنځته شي، چې د پوهنتون، کورنۍ، ټولنې او دولت همغږي پکې موجوده وي.

**وړاندیزونه**

د موندنو پر بنسټ، لاندې وړاندیزونه وړاندې کېږي:

1. په درسي ودانیو، لیلیو، درسي ټولګیو، لابراتوارونو او مطالعه‌ځایونو کې دې د محصلانو لپاره ارام او مجهز فزیکي درسي چاپېریال برابر شي، څو د زده‌کړې کیفیت لوړ شي او د لیلیې ظرفیت، کیفیت، پاکوالی او تفریحي اسانتیاوې دې زیاتې شي، څو محصلان وکولای شي په ارام ذهن سره زده‌کړې وکړي.

۲. محصلانو ته دې د  رواني، تحصیلي او ... مشورې  خدمات فعال او ورکړل شي او د زده‌کړې/مطالعې مهارتونو، وخت مدیریت، ځان باورۍ، ازموینو ته چمتووالي او د فشار سره د مقابلې لارو چارو په اړه دې سیمینارونه جوړ او پوهه دې ور زده کړل شي.

۳. هغه پوهنځیو او څانګو ته چې د تحصیلي افت کچه پکې لوړه ده،  جدي پاملرنه وشي او ځانګړې اصلاحي تګلارې دې ورته جوړې شي. هرې څانګې ته دې د اړتیا او ظرفیت له مخې امکانات، استادان او منابع برابرې شي.

٤. استادان دې وهڅول شي چې فعال، تعاملي او محصل محور تدريس مېتودوونه وکاروي او له نوې ټکنالوژۍ ګټه واخلي او استادانو ته دې دوامداره مسلکي او پيداګوژيکي روزنه ورکړل شي.

**اخځليکونه**


خاکي، غلامرضا. (۱۳۸۲). *روش تحقيق با رويکردي به پاياننامه نويسي*. تهران: انتشارات بازتاب.

سروری، خليل الرحمن. (۱۳۹۵). *روشهای تحقيق در روانشناسی و علوم تربيتی*. کابل: انتشارات سعيد.

گلشن فومني، محمدرسول (۱۳۸۲)، *جامعه شناسي آموزش و پرورش*، تهران: انتشارات ديدآور.

ابراهيمزاده، فرزاد؛ ناصريان، مهرزاد قرباني و مرداني، مهناز. (۱۳۹۴). *بروز افت تحصيلي و عوامل مرتبط با آن در دانشگاه علوم پزشکی لرستان*. فصلنامه علمی ـ پژوهشی دانشگاه علوم پزشکی لرستان، يافته، دوره هفدهم (۴)، ص ۱۴ – ۲۴.

آشتياني، سعيد چنگيزی، شمسی، محسن و محمدبيگی، ابوالفضل. (۱۳۸۸). *فراواني افت تحصيلي و برخي از عوامل مؤثر بر آن از ديدگاه محصلان دانشگاه علوم پزشکي اراك*. مجله علمي پژوهشي دانشگاه علوم پزشکي اراك، سال ۱۲(۴)، ص ۲۴ – ۳۳.

افشار، ملوس. (۱۳۹۵). *بررسی علل افت تحصيلي و تأثير سطح سواد والدين بر پيشرفت تحصيلي دانش آموزان*. کنفرانس بين المللی پژوهش در مهندسی، علوم و تکنالوژی/ باتومی –گرجستان.

اميني فر، مرتضي (۱۳٦۵)، «*افت تحصيلي يا اتلاف در آموزش و پرورش*»، فصلنامه تعليم و تربيت»، پاييز و زمستان، ۷(۷).صص ۷-۲۵.

بازرگان، زهرا (آبانماه ۱۳۷۹)، «*نگاهي ديگر به مسأله افت تحصيلي و شيوههاي موثر مقابله با آن در برخي از کشورهاي پيشرفته صنعتي*»، نشريه ماهانه آموزشي - تربيتي - پيوند، تهران: انتشارات انجمن اولياء و مربيان، شماره ۲۵۵، صص ۲۳۳- ۲۴۵.

پارسی، بهزاد؛ متولی حقی، فرزاد؛ شفا وردی، مجيد، ملکزاده؛ معصومه، اسلامی فر؛ و بريماني، خديجه. *(۱۳۹۷). بررسی ميزان افت تحصيلي و عوامل مؤثر بر آن در دانشجويان مقاطع مختلف دانشگاه علوم پزشکی مازندران*. نشريه راهبردهای آموزش در علوم پزشکی، دوره ۱۱ (۳). ص ۱۴۳ – ۱۴۸.

پر دنجانی، سجاد رحيمی؛ حشمتی، هاشم و مقدم، زهرا. (۱۳۹۰). *بررسی فراوانی و عوامل مؤثر در افت تحصيلي دانشجويان ساکن خوابگاه دانشکدههای پيراپزشکی و بهداشت دانشگاه علوم پزشکی گلستان*. فصلنامه علمی دانشگاه علوم پزشکی تربتحيدريه ،دورهی دوم (۱)، ص ۱٦ – ۲۸.

پور بند بنی، محمد اسماعیل ؛ نادری شاد، شایان؛ آبکنار، فائزه کبرایی و چابکي، بهاره غلامی. (۱۳۹٦). *بررسي افت تحصیلي و برخي عوامل مرتبط با آن از دیدگاه محصلان دانشگاه علوم پزشکي گیلان د شهر گیلان*. پژوهش در آموزش علوم پزشکي، سال نهم (۳)، ص ۹۰ – ۹٦.

تمنائی فر، محمدرضا و محمد آمینی، محسن نیاز. (۱۳۸٦). *بـررسی مقایسه‌ای عوامل مؤثر بر افت تحصیلي دانشجویان مشروط و ممتاز*. دوماهنامه علمی – پژوهشی دانشور رفتار دانشگاه شاهد شهریور، ۸٦ سال چهاردهم (۲۴)، ص .۳۹- ۵۲.

جعفری، علی و عندلیبیان، امیر هوشنگ. (۱۳۹۷). *نقش بازی‌های رایانه‌ای در افت تحصیلي دانش آموزان متوسطه شهر تهران*. نشریه علمی- پژوهشی فناوری آموزش، بهار ۱۳۹۷، جلد ۱۲(۳)، ص ۲۱۱ – ۲۲۰.

حاجي زاد، محمد (۱۳۸۲)، «*عوامل آموزشي - اجتماعي موثر بر کاهش قبولي دانش آموزان مراکز پیش دانشگاهي در کنکور ۸۰ در شهرستان بهشهر*». پایان نامه کارشناسي ارشد، تهران: دانشگاه علامه، دانشکده روان شناسي و علوم تربیتي.

حسام، مسلم و ثناگو، اکرم . (۱۳۹۱). *بررسی رابطه افت تحصیلي با رضایت تحصیلي و برخی عوامل در دانشجویان دانشکده علوم پزشکی گلستان*. مجله توسعه پژوهش در پرستاري و مامایی، دوره نهم (۲)، ص ۹۰-۹٦.

خپلواک، محمد طاهر او نجیب، نجیب الله. (۱۴۰۳). *لوګر د لوړو زده‌کړو مؤسسې د محصلانو پر تحصیلي لوېدنې(افت تحصیل) د اغېزناکو لاملونو څېړل*. عینک علمي ـ څېړنیزه مجله، لومړی کال(۲)، ص ۱۷۸ – ۱۹۸.

راستیان، محمد لطیف ؛ حسن نیا، سمیه؛ مظفری، شهباز و صادقی، فاطمه. (۱۳۹۳). *راهکارهای مقابله با افت تحصیلي*. فصلنامه مرکز مطالعات و توسعه آموزش دانشگاه علوم پزشکی شهید صدوقی یزد ( ویژه‌نامه پانزدهمین همایش آموزش علوم پزشکی ) دوره نهم (۱۳) ، ص ۴۷۹ – ۴۸۷.

سید محمد مقیمی، حسین ختنی فر، نفیسه زر وندی، احمد جوکار، سید احمد بیان، اکبر فرجی ارمکی. (۱۳۸۹). *مطالعه و بررسي رابطه بین عوامل آموزشي و افت تحصیلي در میان دانش آموزان پسر آموزشگاه‌های راهنمایي*. دو فصلنامه مدیریت و برنامه‌ریزی در نظام‌های آموزشي، دوره ۳(۴)، ص ۱۴۴ – ۱٦۰.

سیمائی، حکیمه. (۱۳۹۷). *بررسی رابطه سلامت روانی موجود در مدارس با افت تحصیلي دانش آموزان مقطع ابتدایی ارومیه*. مجله پیشرفت های نوین در روانشناسی، علوم تربیتی و آموزش و پرورش. سال اول، شماره ۳، صص ۴۴- ۵۲.

شکر کن، حسین؛ پولادی، محمدعلی و حقیقی، جمال. (۱۳۹۷). *بررسی عوامل مهم افت تحصیلي در دبیرستان‌های پسرانه شهرستان اهواز*. مجله علوم تربیتی و روانشناسی، دانشگاه شهید چمران اهواز، سال هفتم (۳ و ۴)، ص ۱۰۳ – ۱۱۴.

شيخي، محمد تقي (۱۳۷۳)، *جامعه شناسي جهان سوم*، تهران: انتشارات اشراقي.

صفوي، امان الله (۱۳٦۵)، «*افت تحصيلي در ايالات متحده آمريكا و علل آن*»، فصلنامه تعليم و تربيت، سال دوم( ۷ و ۸)، صص ۳٦-۴۳..

طاهری، عبدالمحمد و فیاضی، مهسا. (۱۳۹۰). *بررسی علل افت انگیزش تحصیلي از دیدگاه دانش آموزان دوره پیش‌دانشگاهی با توجه به جنسیت و زمینه‌های خانوادگی آن‌ها*.نشریه علمی پژوهشی فناوری آموزش، سال پنجم، جلد۵(۴)، ۲۸۷ – ۲۹۸.

غیبی، شاهصنم؛ محمود لو، رحیم؛ موسومی واعظی، سید جواد؛ یکتا، زهرا؛ علی، رضا پور و کفیلی، مهناز. (۱۳۸۹). *بررسی میزان افت تحصيلي و برخي عوامل زمینه‌ساز آن در محصلان پزشکي دانشگاه علوم پزشکي ارومیه*. مجله مرکز مطالعات و توسعه آموزش پزشکی، دوره هفتم(۲)، ص ۱۴٦- ۱۴۱.

فتی، لادن؛ آذری، شیدا؛ بادران، حمید و اطلسی، اطلسی. (۱۳۹۳). *مرور سیستماتیک بررسی علل افت تحصیلي محصلان پزشکی. گام‌های توسعه در آموزش پزشکی*. مجله مرکز مطالعات و توسعه آموزش پزشکي، دوره دهم (۲)، ص ۳۱- ۳۸.

قاسمی، زهرا؛ محبی فر، رفعت؛ سمیعی راد، فاطمه؛ نظری شادکام، فاطمه و قهرمانی، علیرضا. (۱۳۳). *بررسی میزان افت تحصیلي دانشجویان دانشگاه علوم پزشکی قزوین در سال تحصیلي ۹۲- ۱۳۹۳ و شناسایی مهم‌ترین عوامل فرآیندی مؤثر بر آن*. فصلنامه مرکز مطالعات و توسعه آموزش دانشگاه علوم پزشکی شهید، صدوقی یزد( ویژه‌نامه پانزدهمین همایش علوم پزشکی)، دوره نهم (۱۳ )، ص ۲۱۷ – ۲۲٦.

کمالي، فرحناز و رضایی، پروین. (۱۳۹۸). *افت تحصیلي در دانشجویان پزشکی به‌عنوان عامل مؤثر در آینده سلامت جامعه را در دانشکده پزشکی بندرعباس*. مجله طب پیشگیری، سال هفتم (۱)، ص ۷۳ – ۸۰.

پورمحمدی، بهراد، کمی، گوهر، و رحیمی پردنجانی، سجاد. (۱۳۹۹). افت تحصیلی دانشجویان رشته بهداشت دانشگاه علوم پزشکی سمنان. راهبردهای توسعه در آموزش پزشکی، ۷(۱ )، ۷۸-۹۱.

معصومی، مظفر؛ حسین زاده لطفی، فرهاد؛ شاهورانی، احمد و رشیدیان، زهرا. (۱۳۸٦). *بررسی علل افت تحصيلي دانش آموزان دوره متوسطه شهر خرم‌آباد در درس ریاضی*. مجله ریاضیات کاربری واحد لایجان ، سال چهارم (۱۴)، ص ۷۵ – ۸۸.

معيري، محمد طاهر (۱۳۷۰)، *مسائل آموزش و پرورش، تهران*: انتشارات امیرکبیر.

مقدم، عسکر نعمتی و کمالی فر، زینب. (۱۳۹۱). *بررسی شناسایی عوامل مهم افت تحصيلي دانش آموزان پسر شهر آمل در درس شیمی یک*. هشتمین سمینار آموزش شیمی ایران، ٦ و۷، ۱۳۹۲ ، دانشکده شیمی، دانشگاه سمنان.

منادي، مرتضي (۱۳۷۲)، «*تفسير شكستهاي تحصيلي از ديدگاه جامعه شناسي*»، فصلنامه تعليم و تربيت، پاييز و زمستان سال نهم، شماره ۳۵ و ۳٦، صص ۵۳ -٦۸.

مهران، گلنار (۱۳۷۵)، «*بررسي علل ترك تحصيل دختران در مقطع آموزش ابتدايي در منطقه خاور ميانه و شمال آفريقا و بويژه درايران*»، فصلنامه تعليم و تربيت، تابستان سال دوازدهم(۲)، صص ۹ -۴۲.

نعیمی، ابراهیم. (۱۳۹٦). *بررسی پیش‌بینی افت تحصيلي بر اساس میزان استفاده از شبکه‌های اجتماعی مجازی و احساس ارزش شخصی*. پژوهش‌های مشاوره، جلد ۱٦ (٦۲)، ص ۱۸۹ – ۲۰٦.

نفيسي، عبدالحسين (۱۳۷۱)، «*خسارتهاي ناشي از شكست تحصيلي و وضعيت آن در سال ۱۳٦۹*»، فصلنامه تعليم و تربيت، پاييز سال هشتم ، شماره ۳، صص ۱۰۹-۱۲۸.

Two Quarterly
Ainak Academic – Research Journal
Logar University Journal License Date: June/ 2023

# Investigating the Factors of Academic Motivation among students of the physics Department, Faculty of Education at Logar University

Najeebullah Najeeb
Department of Psychology and Educational Sciences, Faculty of Education, Logar University, Logar, Afghanistan.
Email: nn@logu.edu.af

## ABSTRACT

**Problem Statement:** Although students engage in studying, their interest and participation in learning vary. Some are actively involved, while others show little interest. The underlying reasons for these differences are not yet clear; therefore, this study was conducted to identify the factors influencing students' academic motivation.

**Objective:** Investigating the Factors of Academic Motivation among Students in the Physics Department, Faculty of Education, Logar University.

**Research Methodology:** This study assessed the academic motivation of students in the Physics Department at the Faculty of Education, Logar University. A descriptive-analytical design was used, employing a quantitative approach for data collection. The study population included all 45 students in the department, with 40 students participating due to the small population size. Data were collected using the standard Hermans questionnaire, which showed a reliability coefficient of 0.801 based on Cronbach's alpha; previous studies reported reliability ranging from 0.76 to 0.83. The data were analyzed using IBM SPSS 26, and the One-Way ANOVA test was applied.

**Findings:** The results showed that first-year students had higher average academic motivation than students in the second, third, and fourth years. This indicates a decline in motivation among upper-year students. The findings highlight the need for the Physics Department to implement appropriate interventions to prevent potential negative outcomes and enhance students' academic engagement.

**Keywords:** Academic Motivation, Motivation, Physics Department & Students.

**Cite this article**. Najeeb, N. (2026). *Investigating the factors of academic motivation among students of the physics department, Faculty of Education at Logar University*. Ainak Two-Quarterly Academic–Research Journal,3(5),147-172.

© The Author. Logar University.